2 017550 139621

# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۷ د لړم اوومه | د ۲۰۱۸ د اکتوبر ۲۹مه | دويم کال | ۲۷۵يمه ګڼه

## هېواد


۴ مخ

### د عاج ساحل

د عاج ساحل ۷۰سلنه وګړي د کرنې په سکټور کې په کار بوخت دي او د هېواد ۳۳سلنه ناخالص کورني تولیدات هم له همدې سکټور څخه لاسته راځي.



### سرکال اووه افغان لوبغاړي په BPL کې لوبېږي



د افغانستان د کريکټ بورډ چارواکي وايي، د بنګله دېش شپږم پړاو کريکټ لیګ لپاره ۱۹ افغان لوبغاړي وړاندې شوي وو چې له دې ډلې ۷ تنه يې په دغه لیګ کې د لوبېدو لپاره اخیستل شوي دي.

حضرت الله ځاځی د ډهاکې له خوا، شهزاد محمدي د چټاګانګ له خوا او دغه راز قيس احمد د ډرافټ پروسې تر پيل وړاندې اخيستل شوی و. ګلبدين نايب د سيلهيټ سيکسرز له خوا، نجيب ځدران د چټاګانګ له خوا، ظاهرخان د خولنا ټايټنز له خوا او وقار سلام خېل د کوميلا ويکټورينز لوبډلې له خوا پېرل شوي دي.

په ۱۹ وړاندی شویو افغان لوبغاړو کې شاهد الله کمال، ضيا الرحمان اکبر او درويش رسولي هم شامل وو. په ورته وخت کې نبي عيسی خېل، راشد خان او مجيب ځدران بيا د استراليا په (بيګ باش) کې د لوبېدو له کبله له بنګله دېش لیګ نه تېر شوي دي.

## راتلونکو ولسمشريزو ټاکنو ته اندېښنې:

# ټيفا وايي چې تر ټاکنو مخکې دې ټاکنيز بنسټونه اصلاح شي




۳

د نه بايومېټريک شويو رايو بطلان د روڼتيا په برخه کې ښه ګام

۲ مخ

زموږ شينجيانګ ښکلی ځای دی

۲ مخ

د ولسي جرګې د ۱۶مې تقنيني دورې اته کلن مزل

۳ مخ

## د ټلوالې مشران راتلونکې اونۍ ولسمشريزو ټاکنو ته خپل نوماند غوره کوي

د ټلوالې مشران راتلونکې اونۍ د ولسمشريزو ټاکنو لپاره خپل نوماند غوره کوي.

د اوسني او پخواني حکومت ځينو مهمو چارواکو او د پخوانۍ شمالي ټلوالې مخکښو څېرو يو ځل بيا په خپلو کې د راتلونکو ولسمشريزو ټاکنو لپاره د نوماند پر وړاندې کولو بحثونه او سلا مشورې پيل کړې دي.

سپوږمۍ راډيو د ترلاسه کړو معلوماتو پر بنسټ ويلي چې د يادو چارواکو وروستۍ او تازه ناسته ورمه شپه په کابل کې شوې او پرېکړه يې کړې چې د رواني اونۍ په پای کې به بيا سره را ټولېږي او د راتلونکي اونۍ تر وروستيو به خپل مشخص نوماند اعلانوي.

د ورمې شپې په ناسته کې عطا محمد نور، يونس قانوني، صلاح الدين رباني او احمد ضيا مسعود علاقمندي ښودلې چې د دوی له ډلې يو کس نوماند کړای شي او راتلونکې اونۍ به ددې څلورو کسانو له ډلې يو کس د نوماندېدو لپاره ټاکل کېږي. په دې ناسته کې دغه راز پرېکړه شوې چې لومړی مرستيال يې بايد کندهاری پښتون وي او ټينګار يې کړی چې حکمت خليل کرزی د لومړي مرستيال څوکۍ منلو ته راضي کړي.

د معلوماتو له مخې د دغه راتلونکي انتخاباتي ټيم په دويمه ناسته کې به د جنرال دوستم او محمد محقق پر رول او موقفونو باندې هم خبرې کېږي چې دوی دواړه بايد په راتلونکي حکومت کې څومره ونډه ولري.

## هلمند ته به د لومړۍ درجې ولايت ټولې اسانتياوې برابرې شي



۵ مخ

## افغانستان در مورد نشست مسکو با مقام های روسی رایزنی میکند



وزارت خارجه میگوید که حکومت افغانستان برای اشتراک در نشست مسکو و آجندای آن با مقام های روسی چانه زنی میکنند.

در همین حال رسانه های پاکستانی از قول چند مقام این کشور میگویند که پاکستان در نشست مسکو که برای صلح افغانستان است اشتراک خواهند کرد.

گروه طالبان میگویند که اگر آجندای نشست مسکو تغییر نکند آنان در این نشست میروند و همچنان میخواهند که نماینده های حکومت افغانستان نیز ضلع اصلی این نشست باشند. سید اکبر آغا عضو پیشین گروه طالبان میگوید: «اشتراک طالبان احتمالی است و در صورتی که آجندای این نشست تغییر نکند این گروه شرکت میکند و میخواهد که حکومت افغانستان هم آنجا حاضر باشد.»

حکومت افغانستان چندی پیش دور نشست مسکو در چهارم ماه سپتامبر را خط زده بود و ظاهرا مقام‌های کابل هنوز تمایل برای شرکت در این نشست را نیز ندارند.

صبغت احمدی سخنگوی وزارت امور خارجه ابراز میکند: «برای مساله نشست مسکو و برنامه ها و نحو مدیریت آن با شرکای روسی بحث جریان دارد.»

چین، امریکا، هند و عربستان از متعهدان آوردن صلح به افغانستان است و حالا روس ها نیز میخواهند برنامه ریز آشتی دولت افغانستان و طالبان باشند.

عبدالهادی ارغندیوال رییس حزب اسلامی میگوید: «ادامه جنگ به ضرر تمام مردم افغانستان است و این صلح میتواند کلیدی روشن برای آینده افغانستان و منطقه باشد و باید گروه های طرف جنگ با هم گفتگو کند.»

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a book to your life



دهبوريو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

دریځ

# د نه بایومېټریک شویو رایو بطلان د روڼتیا په برخه کې ښه گام

په څلونو د روڼتیا لپاره د اصلاحاتو په پلمه د ټاکنو له ځنډ سره سره د ټاکنو خپلواک کمېسیون د رڼو ټاکنو پر ترسره کولو بریالی نه شو. د ولسي جرگې تېرې ټاکنې هم د تېر په څېر له تخنیکي ستونزو او د درغلۍ له ادعاوو سره ملې وې. ځینې نوماندان ادعا کوي چې په یو شمېر مراکزو کې بایومېټریک نه دی کارول شوی او همدغه کار په پراخه کچه درغلیو ته لاره هواره کړې ده. د هغوی غوښتنه دا ده چې که کمېسیون په لومړي ځای کې د بایومېټریک په کارولو کې پاتې راغلی، د روڼتیا د نسبي اعادې لپاره دې اوس هغه رایې باطلې اعلان کړي چې له بایومېټریک پرته کارول شوې دي.

د نوماندانو د غوښتنې پر بنسټ د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمېسیون هم له بایومېټریک پرته د کارول شویو رایو د باطلولو پرېکړه وکړه. دغه کمېسیون وایي د رایو هغه صندوقونه چې د رایه ورکوونکو له رسمي نوملړ او بایومېټریک کولو پرته ډک شوي رسمیت نه لري. کمېسیون دغه راز وایي چې شاوخوا لس زره شکایتونه ورسره ثبت شوي او د دغو شکایتونو د څېړلو لپاره یې کاري ډلې جوړې کړې چې په ټاکلې موده کې به وڅېړل شي.

له بایومېټریک پرته د کارول شویو رایو د بطلان اعلان د روڼتیا په برخه کې مهم گام دی. که څه هم دا د ټاکنو د خپلواک کمېسیون د عملیاتي برخې مسوولیت و چې د رایه ورکونې په هر محل کې یې د بایومېټریک له کارولو د ټاکنو له ترسره کولو وړاندې ډاډ ترلاسه کړی وی، خو اوس چې ټاکنې ترسره شوې او دې نیمگړتیا د دغه ډیموکراتیک بهیر مشروعیت له سوال سره مخ کړی، غوره ده چې د ټاکنو کمېسیون په دې تړاو د شکایتونو د کمېسیون کړې پرېکړې ته درناوی وکړي او هغه رایې بې باوره وگڼي چې بایومېټریک شوې نه دي. که بایومېټریک شویو او نه بایومېټریک شویو رایو ته په یوه سترگه کتل کېږي، دا به د دې ټکنالوژۍ د کارونې فلسفه له سوال سره مخ کړي. که کمېسیون ته د هغو رایو چې کاروونکي یې بایومېټریک شوي او هغو چې نه دي شوي توپیر نه وي، نو ولې یې د دې ټکنالوژۍ د ترلاسه کولو او کارولو لپاره دومره لگښت وکړ.

د ټاکنو شریک اړخونه؛ مدني ټولنې، هغه نوماندان چې د ولس رایې ته درناوی لري او نړیواله ټولنه باید له ټاکنیزو کمېسیونونو سره مرسته وکړي چې له بایومېټریک پرته کارول شوې رایې تشخیص او باطلې اعلان کړي. په دې ډول به له یوه لوري د ټاکنو د پایلو له مشروعیت سره مرسته شوې وي او له بل لوري به د راتلونکو ټاکنو نوماندانو ته څرگند پیغام ورکړل شوی وي چې که سیاسي اراده موجوده وي، د درغلۍ مخنیوی ممکن دی. یوازې د نه بایومېټریک شویو رایو په باطلولو سره هم ټولې ستونزې نه شي حل کېدای. د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون باید ټولو مستندو شکایتونو ته لازمه او پر وخت رسیدگي وکړي.



# زموږ شینجیانگ ښکلی ځای دی

لیکنه: په افغانستان کې د چین لوی سفیر؛ لیو جین سونگ

د چین د شینجیانگ ویغور کورواکه سیمه له افغانستان سره گډه پوله لري او د افغانانو لپاره یو اشنا ځای دی. له کابل څخه د شینجیانگ مرکز اوروموچي ښار ته مستقیم پرواز یوازې درې ساعته دی. د وربښمو لرغونې او اوسنۍ لارې د چین شینجیانگ او افغانستان سره نښلولي.

شینجیانگ زما ټاټوبی دی، هلته زما د ماشومتوب او ځوانېتوب ۱۷ کاله تېر شوي، زه له تیان شان غره څخه د راغلو اوبو په څښلو او د بېلابېلو قومونو د ښوونکو په لارښوونو لوی شوی یم، نانگ (وچه ډوډۍ) او پلو زما د خوښې خواړه دي. زما په یاد دي کله چې وړوکی وم، د بېلابېلو قومونو کوچني ملگري د یوې کورنۍ د خپلوانو په شان راته نږدې وو، موږ به په گډه مکتب ته تلو او لوبې به مو کولې، د بېلابېلو قومونو په اخترونو کې مو فعال گډون کاوه، ځکه چې په اخترونو کې به راز راز خوندور خواړه، خوږې شیرینۍ او مېوې برابرې شوې وې.

شینجیانگ له طبیعي زیرمو ډک بډای او ښایسته ځای دی. په یوه سندره کې داسې ویل کېږي چې «زموږ شینجیانگ ښکلی ځای دی، د غره په جنوبي او شمالي لمن کې یې ښایسته څړ ځایونه شته. نرمې وړمې چلېږي او د پسونو او غوایانو گلې پکې لیدل کېږي، انگور او خټکي یې خواړه دي، د سکرو، اوسپنو، سروزرو او سپینو زرو زېرمې لري.»

د تېرې پېړۍ په اوومه لسیزه کې په شینجیانگ کې زما د کورنۍ او د گاونډیانو ژوند ستونزمن و. زما د کورنۍ څلور غړي په یوه پوړیزه ودانۍ کې اوسېدل چې مساحت یې یوازې څه باندې لس متره مربع و او د بارانونو په وخت کې به یې بام څڅېده. مجبور وم چې د کوپون ټکټونو څخه په استفادې د ژوند لومړنیو توکیو د اخیستلو لپاره خپل نوبت ته منتظر شم. د چین د اصلاحاتو او ورخلاصون په رڼا کې شینجیانگ د سترې برخې په شان چټک اقتصادي پرمختگ کړی او د خلکو ژوند ښه او شتمن شوی دی، هلته اوس عصري او لوی کورونه جوړ شوي، سوداگریز توکي پکې زیات شوي او اوس هلته د کوپون ټکټونه د یادگاري اثارو په توگه ساتل شوي. د اوسني شینجیانگ په ښارونو کې زیاتره کورنۍ خپل موټرونه لري. په ۲۰۱۷ ز کال کې د شینجیانگ د اوسېدونکو د هر تن منځنی عایدات ۸۰۰۰ ډالرو ته رسېدل چې دا رقم د تېرو ۴۰ کلونو په پرتله ۱۲۸ چنده زیات شوی دی.

د شینجیانگ په څه باندې یو میلیون ۶۰۰ زره کیلومتره مربع ځمکه کې تر ۲۳ میلیونو تنو زیات خلک اوسېږي. د ویغور، هان، قزاق او هوی قومونه د دې سیمې په عمومي نفوس کې اکثریت نیسي او ځینې نور ملي لږکي له ډېرو افغانانو سره بلد دي. د بېلگې په توگه، تاجکي قوم او ازبکي قوم، قرغېزي قوم په شینجیانگ کې د قرغز قوم په نوم یادېږي. دغه قومونه په سوله ییز ډول گډ ژوند کوي، خپلمنځي اړیکې یې عادلانه دي، یو له بل سره مرسته کوي او د ملي لږکیو د کورواکو سیمو نظام د ساتنې او پرمختگ لپاه گډې هلې ځلې کوي. د بېلابېلو قومونو خلک د یاد اصلي سیاسي نظام پر بنسټ او د ملي یووالي ساتلو تر اصل لاندې په خپله سیمه ییزې چارې اداره کوي. د کورواکو سیمو، ښارونو او ولسوالیو د مشرانو دندې د ځایي ملي لږکیو اتباعو له خوا اجرا کېږي. اوس په شینجیانگ کې د ملي لږکیو حکومتي کارونکو شمېر نږدې ۱۰۰ زره تنه دی.

په شینجیانگ کې زما ډېر ملگري مسلمانان دي، زما کور ته نږدې جومات واقع دی، هلته هره ورځ د لمانځه اذانونه اورېدل کېږي. د شینجیانگ د بېلابېلو قومونو خلک د یو بل عنعناتو او مذهبي عقیدو ته درناوی کوي، ځایي خلک لوی اختر او پسرلنی جشن نمانځي. په شینجیانگ کې د مسلمانانو د نفوس انډول او د هر تن په سر له مذهبي تاسیساتو د برخمنېدلو انډول لوړ دی. حکومت د مذهبي عقیدو ازادۍ ته درناوی کوي او دغه حق ساتي، له قانون سره سم مذهبي چارې اداره کوي، مذهبي ځایونه او عادي مذهبي فعالیتونه ساتي او هر کال مکې ته د حج ادا کولو لپاره حاجیانو ته د ځانگړو الوتکو ترتیبات نیسي.

د حیرانتیا وړ خبر دا دی چې د ۲۰۰۹ ز کال د جولای په پنځمه نېټه په اورموچي کې سخته ترهگریزه پېښه وشوه چې له امله یې نږدې ۲۰۰ تنه ووژل شول او له ۱۷۰۰ تنو نه زیات کسان ټپیان شول. د اورموچي د جنوبي دروازې میدان پخوا د بېلابېلو قومونو د خلکو لپاره د ساعت تېرې ځای و، خو ترهگرو هلته بې گناه کسان ووژل. له یادې پېښې څخه وروسته د شینجیانگ په دننه او بهر کې ترهگرو یو لړ جرمونه وکړل او بې رحمې یې خلک ووژل، ان تر دې چې په زانگو کې یې ښځې او ماشومان هم ووژل. ترهگرو په خپلو هغو کړنو سره چې له اسلامي دین او شریعت سره په ټکر کې دي، خپل انسانیت له لاسه ورکړی، د خلکو ژوند یې پایمال کړی، ځایي قانوني اداره یې ویجاړه کړې، د شینجیانگ ځایي خلکو یوه موده د دوی له لاسه په ترس او ډار کې تېره کړه.

د شینجیانگ د بېلابېلو قومونو خلک له ترهگرو څخه کرکه کوي، حکومت د خلکو د ارادې سره سم د ترهگرۍ، بېلتون غوښتنې او افراطیت په شمول له دریو بدو ځواکونو سره د مبارزې لپاره ټینگ او قانوني تدبیرونه نیولي دي. له تېرو دوو کلونو راهیسې، حکومت له ترهگریزو جرمونو سره د مبارزې ترڅنگ د ترهگرۍ د رامنځته کېدو د مخنیوي په برخه کې گامونه پورته کړي، د افراطیت د له منځه وړلو لپاره یې د مسلکي مهارتونو ښوونیز او روزنیز ټولگي جوړ کړي، څو له هغو کسانو سره مرستې وکړي چې سپکې جرمي کړنې لري او هغه ځوانان وژغوري چې له ترهگرۍ او زور زیاتۍ څخه ډکو غږیزو پیغامونو، ویډیوگانو او افراطي تبلیغاتو څخه اغېزمن شوي.

د مسلکي مهارتونو د ښوونې او روزنې له امله ځینو کسانو د مجرمانو او د یادو دریو بدو ځواکونو د قربانیانو په لور گامونه بندکړي، د حقیقت پېژندلو توان یې لوړ شوی، د قانوني اداري او اتباعو په اړه یې پوهې زیاتې شوې، له عصري ژوند سره برابر ژوند کوي او دوی د هېواد په ملي ژبه پوهېږي او ښه مهارت یې پیداکړی دی.

دا د چین په اساسي قانون کې تایید شوې چې د چین حکومت د ټولو اتباعو بنسټیزو بشري حقونو ته درناوی کوي. په شینجیانگ کې د افراطیت مخنیوی او له ترهگرو سره مقابله تر وسې پورې د ځایي اتباعو د بنسټیزو حقونو د تامین په موخه ده. د شینجیانگ خلک د حکومت له نیول شویو تدبیرونو څخه ډېر ملاتړ او ستاینه کوي، ځکه په تېرو دوو کلونو کې په شینجیانگ کې ترهگریزې او خونړۍ پېښې نه دي رامنځته شوي، خلک په امنیتي لحاظ ارام احساس لري او په شپه کې په ښه توگه خوب کولی شي. رستورانتونه او سینماگانې تر شپې پورې پرانیستې وي. تېر کال د شینجیانگ د اوسېدونکو د منځنیو عایداتو د زیاتوالي انډول له اته سلنې اوښتی و، د روان کال په لومړنیو نهو میاشتو کې له ۱۳۰ ملیونو تنو څخه زیاتو کورنیو او بهرنیو سیلانیانو شینجیانگ ته سفرونه کړي.

زیاتو افغان دوستانو په دې وروستیو کې د اورموچي له لوی بازار او د کاشغر له لرغوني ښارگوټي څخه لیدنې وکړې او د دغه ځای د سمسورتیا او ارامتیا صمیمي ستاینه یې وکړه. د دغه وضعیت رامنځته کېدل اسانه کار نه دی.

چین او افغانستان گډه پوله لري، دواړه د وربښمو لارې په اقتصادي کمربند او له ترهگرۍ سره د نړیوالې مقابلې په لومړۍ کرښه کې واقع دي او د گډ برخلیک په یوه ټولنه کې شامل دي. د افغانستان ښه والی د شینجیانگ لپاره گټور دی او د شینجیانگ ښه والی د افغانستان لپاره گټور دی. سږ کال بدخشان ولایت له شینجیانگ سره د ولایت او سیمې په کچه د دوستانه اړیکو د ټینگولو یادښت لاسلیک کړ، شینجیانگ د بدخشتان ولایت له وچکالۍ ځپلو کسانو سره پر وخت مرستې کړې دي. له تېر یو کال راهیسې د افغانستان دوو تنو مشرانو په اورموچي کې د چین، اسیا او اروپا په ننداړتون کې گډون وکړ، زیاتو افغان مسلکي ډلو په شینجیانگ کې په روزنو کې برخه اخیستې، د زړه په ناروغۍ اخته سل تنه افغان ماشومان په اورموچي کې تداوي شول، د دوی د زړه عملیاتونه په بریالیتوب سره تر سره شول، له ۴۰۰۰ تنو څخه زیاتو افغان ملگرو له شینجیانگ څخه لیدنې وکړې. شینجیانگ د افغانانو لپاره د ملگرو، گاونډیانو او خپلوانو کور دی، د باور وړ تمځای، د زده کړې ټولگی او سوداگریزه سیمه ده.

تېر کال د افغانستان د ولسمشر دویم مرستیال سرور دانش له شینجیانگ څخه تر لیدنې وروسته د نړۍ له دویم لوی اقتصادي ځواک څخه د زده کړې تر عنوان لاندې د یوې مقالې په خپرولو سره څرگنده کړه چې هغه په خپلو سترگو دا ولیدل چې په شینجیانگ کې د بېلابېلو قومونو خلک د انارو د دانو په شان راغونډ شوي. په دغه مقاله کې هغه ویلي چې د شینجیانگ له بریالیو تجربو څخه ښکاري چې خلک باید له حکومت سره په گډه د ورخلاصون او پرمختگ فرصتونه ونیسي. شخصي اقتصادي ډلې باید د اقتصادي گټو ترڅنگ د وطن پالنې مسوولیت په غاړه واخلي. ټولنه باید افراطي او زوروري ډلې له منځه یوسي. هغه د افغانستان بېلابېلې برخې هڅولې چې د چین د کلتور، ژبې او تجربو زده کړې پیاوړې کړي او په دې مقاله کې یې د اسلام پیغمبر حضرت محمد ((ص)) د حدیث مفهوم راوړی چې علم او زده کړه وکړئ، که څه هم په چین کې وي.

# عمان د اسرائیلو د په رسمیت پېژندلو غوښتنه کړې ده



عمان وایي، اوس یې وخت دی چې اسرائیل د منځني ختیځ د یوه دولت په توگه په رسمیت وپېژندل شي.

په بحرین کې د سیمې د امنیت په اړه په یوه غونډه کې د عمان د بهرنیو چارو وزیر یوسف بن علوي بن عبدالله ویلي چې هېواد یې د اسرائیلو او فلسطین ترمنځ د ستونزو د حل لپاره نظریات او لارې چارې وړاندې کوي، خو منځگړیتوب نه کوي.

نوموړي ویلي: «اسرائیل په سیمه کې یو دولت دی او موږ ټول پوهېږو، نړۍ هم خبره ده. ښایي اوس یې وخت رسېدلی وي چې له اسرائیلو سره همداسې چلن (دولت په څېر) وشي.»

نوموړي دا څرگندونې له هغې وروسته وکړې چې د اسرائیلو لومړي وزیر بینیامین نتنیاهو عمان ته یو لنډ سفر وکړ. تر نتنیاهو مخکې د فلسطین ولسمشر محمود عباس هم عمان ته درې ورځنی سفر درلود او دغو دواړو مشرانو د عمان له سلطان قابوس سره لیدلي دي.

علوي وویل: «موږ داسې نه وایو چې دا اسانه لار ده او په گلونو پوښل شوې ده، خو زموږ لومړیتوب دا دی چې دا شخړه حل شي او موږ یوې نوې نړۍ ته ولاړ شو.»

هغه وویل عمان پر متحدو ایالتونو او د ستونزو د حل لپاره د ولسمشر ټرمپ پر هلو ځلو تکیه لري. په همدې حال کې د بحرین د بهرنیو چارو وزیر خالد بن احمد الخلیفه د اسرائیلو- فلسطین ترمنځ د سولې په اړه د عمان د سلطان رول وستایه.

د سعودي د بهرنیو چارو وزیر عادل الجبیر بیا وایي چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د حل یوازینۍ لار د سولې پروسه ده. د امنیت په اړه په دغه درې ورځنې کنفرانس کې د متحدو ایالتونو د بهرنیو چارو وزیر جېمز متېس او د ځینو نورو اروپایي هېوادونو وزیرانو هم برخه لرله.

امریکا څو میاشتې مخکې بیت المقدس د اسرائیلو د پلازمېنې په توگه په رسمیت وپېژانده او خپل سفارت یې هم هلته انتقال کړ چې دغه کار د اسلامي هېوادونو توندې نیوکې را وپارولې. اسلامي هېوادونه بیت المقدس د اسرائیلو د پلازمېنې په توگه په رسمیت نه پېژني.

# د ولسي جرګې د ۱٦امې تقنیني دورې اته کلن مزل

لیکنه: د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

د افغانستان د اساسي قانون له مخې د ولسي جرګې د ١٦مې تقنیني دورې موده، پوره درې کاله وړاندې پای ته رسېدلې وه او د ۱۷مې تقنیني دورې لپاره باید هماغه مهال ټاکنې شوې وای؛ خو دا ټاکنې له درې کلن ځنډ وروسته د روان لمریز کال د تلې په ۲۸مه وشوې.

د افغانستان د ټاکنو د خپلواک کمېسیون په وینا، په دغو ټاکنو کې د ګډون لپاره څه باندې اته میلیونه کسانو نوملیکنه کړې وه او له غزني او کندهار پرته د هېواد له نورو ۳۲ ولایتونو څخه یې ولسي جرګې ته د شاوخوا ۲۵۷۰ نوماندانو لپاره خپله رایه وکاروله. د کمېسیون د معلوماتو پر بنسټ، ټاکل شوې چې د ټاکنو لومړنۍ پایلې د روان لمریز کال د لړم په ۱۹مه او وروستۍ پایلې یې د لیندۍ په ۲۹مه نېټه اعلان او د ولسي جرګې ۱۷مه تقنیني دوره به رسماً خپل کار پیل کړي.

د ولسي جرګې ١٦مه تقنیني دوره، په دغه دوره کې پر ولسي جرګه د اداري فساد تورونه او د حکومت او ولسي جرګې ترمنځ نانډرۍ هغه موارد دي چې دلته مو بحث پرې کړی دی.

**د ولسي جرګې ١٦مه تقنیني دوره**

په ۲۰۰۱ ز کال کې پر افغانستان د امریکایي او ناټو ځواکونو له برید وروسته، په بُن کنفرانس کې د حامد کرزي تر مشرۍ لاندې د لنډمهاله حکومت پر جوړېدو هوکړه وشوه او له هغه را وروسته د هېواد لپاره نوی اساسي قانون جوړ شو. د نوي اساسي قانون له مخې په ۱۳۸۴لمریز کال کې د ولسي جرګې د ۱۵مې تقنیني دورې لپاره ټاکنې وشوې او ۲۴۹ غړي د خلکو د رایو له لارې د پنځو کلونو لپاره دې جرګې ته وټاکل شول.

وروسته په ۱۳۸۹ لمریز کال کې د ولسي جرګې لپاره بیا ځلې ټاکنې وشوې او د ١٦مې تقنیني دورې غړو په کار پیل وکړ. دغه راز ټاکل شوې وه چې د ولسي جرګې د ۱۷مې دورې ټاکنې به په ۱۳۹۴لمریز کال کې وشي؛ خو د بېلابېلو لاملونو له کبله دا ټاکنې تر دریو کلونو پورې وځنډېدې او د ١٦مې تقنیني دورې موده درې کاله نوره هم وغځېده.

د ولسي جرګې ١٦مې تقنیني دورې په تېرو اتو کلونو کې لسګونه تقنیني سندونه، طرحې او نړیوال هوکړه لیکونه تصویب کړي دي. همدارنګه په دغه موده کې د افغانستان او ځینو هېوادونو ترمنځ د همکاریو هوکړه لیکونه او د ځینو کنوانسیونونو پرېکړه لیکونه هم د ولسي جرګې له لوري تصدیق شوي دي.

په دې دوره کې ولسي جرګې ځینې داسې سندونه هم تصویب کړل چې وروسته یې خپله د هماغو سندونو د بیا لغوه کولو ناري وکړې. له دې ډلې یو هم د افغان دولت او امریکا ترمنځ امنیتي تړون و. لکه څنګه چې د ملي یووالي حکومت د خپل کار د پیل په لومړیو ساعتونو کې دغه تړون په خورا بېړه لاسلیک کړ، داسې ولسي جرګې هم په لږ وخت او د رایو په اکثریت پرته له کوم بحث څخه تصویب کړ؛ خو په وروستیو کلونو کې د هوایي بمباریو او ملکي تلفاتو له زیاتوالي سره ولسي جرګې او مشرانو جرګې یو ځل بیا د دغه تړون د بیاکتنې غږ را پورته کړی دی.

په ټوله کې د ولسي جرګې ١٦مه دوره تر ډېره له یوې خوا په خپلمنځي لانجو او له بلې خوا له حکومت سره په مخالفتونو تېره شوه او تر څنګ یې د وکیلانو غیر حاضري او د رخصتیو پرمهال یې د خپلو موکلینو پر ځای له هېواده بهر سفرونه، هغه څه وو چې په قانون جوړونه، د حکومت د کارونو په څارنه او په رښتیني توګه د خلکو په استازولۍ کولو کې یې د دې جرګې رول تر سیوري لاندې راوستی و، چې له همدې امله خلک هم ترې ناخوښ وو او د «خانه آزاد افغانستان» په نوم د یوه بنسټ د سروې له مخې چې پایلې یې د ۱۳۹۵لمریز کال د لیندۍ میاشتې په وروستیو کې اعلان شوې، ۷۰ سلنه خلک د ولسي جرګې له کارونو ناراضه وو.

**د اداري فساد تورونه**

په ولسي جرګه کې فساد یا د ولسي جرګې پر غړو د فساد تورونه، د دې جرګې د ١٦مې دورې یو مهم اړخ و. په تېرو څو کلونو کې د فساد په برخه کې د افغان دولت د نورو ادارو ترڅنګ ولسي جرګه هم یو له هغو ارګانونو څخه و چې د اداري فساد په زیاتوالي کې یې رول لرلی دی. ان تر دې چې د ۲۰۱۸ ز کال په مې میاشت کې یوناما د «فساد پر وړاندې د افغانستان مبارزه؛ له تګلارې تر عمله» تر عنوان لاندې په خپل خپاره کړي راپور کې د افغانستان پر پارلمان د فساد له امله سختې نیوکې هم وکړې.

د مختلفو امتیازونو په بدل کې وزیرانو ته د باور رایه ورکول، د قانون نقض، عامه نظام او مقرراتو ته نه پاملرنه، قاچاق، د شخصي کارونو لپاره پر دولتي ادارو فشار راوړل او لسګونه داسې نور هغه موارد دي چې د ولسي جرګې غړي د فساد په برخه کې پرې تورن شوي دي.

د بېلګې په توګه، کله چې ولسي جرګې د ۱۳۹۲لمریز کال د غویي په ۲۳مه د مالیې وزارت پخوانی وزیر حضرت عمر زاخېلوال استېضاح کړی و، نوموړي د ټولو وکیلانو او رسنیو پر وړاندې د ځینو وکیلانو د فساد قضیې افشا کړې. نوموړي په زغرده وویل: «د مالیې وزارت د څېړنو پر بنسټ لالی حمیدزی د الکولي مشروباتو او موټرو په قاچاق، سمیع الله صمیم د نفتو او الکولي مشروباتو پر قاچاق، ظاهر قدیر د اوړو په قاچاق او په ناقانونه توګه د پیسو په غوښتلو، عارف رحماني د قرارداد او د پیسو په غوښتلو، محمود خان سلیمانخېل د اموالو په قاچاق او محمد عظیم محسیني هم په ناقانونه توګه د اوسېدو د ځای په غوښتلو، متهم دي.»

د اطلاعاتو او کلتور وزارت پخوانی وزیر عبدالباري جهاني هم هغه کس دی چې د ولسي جرګې د غړو د فساد په اړه یې له ولس سره معلومات شریک کړل. نوموړي په خپله یوه لیکنه کې ویلي وو چې د ۲۰۱۵ ز کال په فبروري میاشت کې ظاهر قدیر په یوه مېلمستیا کې ده او د حکومت ځینو نورو نوماندو وزیرانو ته په ښکاره وویل چې په ولسي جرګه کې د باور رایې ترلاسه کولو په موخه د دې جرګې هر غړي ته پنځه پنځه زره ډالر ورکړئ.

پر دې سربېره د ۱۳۹٦لمریز کال د وږي په میاشت کې داسې راپورونه خپاره شول چې د ولسي جرګې د ننه یې د میلیونونو افغانیو له اختلاس او د لسګونو خیالي کارکوونکو له موجودیت څخه پرده پورته کړه. د دغو راپورونو پر بنسټ د ولسي جرګې د دارالانشا د ۳۷۰ کارکوونکو له ډلې څخه ۲۱۷ یې خیالي وو چې د همدغو کسانو د معاش له ترلاسه کولو څخه هره میاشت څلور میلیونه افغانۍ حیف و میل شوې وې. دغه راز د ولسي جرګې پر مشر هم تورونه وو چې ګواکې نوموړي د ولسي جرګې له بودجې څخه پنځه میلیونه افغانۍ د خپل شخصي کور په جوړولو کې مصرف کړې دي.

که څه هم د ولسي جرګې یو شمېر غړو د جرګې د رییس د اداري فساد د قضیې پر وړاندې غبرګون وښود او د دې قضیې په اړه یې د څېړنو غوښتنه وکړه؛ خو د یادې دوسیې وروستي معلومات او په اړه یې د عدلي او قضایي ارګانونو د څېړنو پایلې له خلکو سره شریکې نه شوې.

**د حکومت او ولسي جرګې ټکر**

د افغانستان د اساسي قانون له مخې، د قوانینو ردول، تصویب او تعدیل، د دولت د پراختیایي پروګرامونو او د دولتي بودجې تصویب، په نړیوالو تړونونو کې د افغان حکومت د پرېکړو تصدیق او ردول، د ولسي جرګې او مشرانو جرګې ګډ صلاحیتونه دي. دغه راز د کابینې وزیرانو ته د باور رایه ورکول او د اړتیا پر مهال استېضاح کول، د دولتي، پراختیایي او بودجوي پروګرامونو تاییدول هم د ولسي جرګې له ځانګړو واکونو څخه دي.

د افغانستان د اساسي قانون پر بنسټ، د دولت د درې ګونو قواوو ترمنځ نه جلاکېدونکې اړیکې وجود لري او درې واړه ارګانونه په دولتي نظام کې د چارو د ښه تنظیم په موخه پر یو بل د نظارت حق لري. په دې برخه کې ملي شورا (ولسي جرګه او مشرانو جرګه) د حکومت په کړنو څارنه کوي چې دغه چاره د حکومتونو د دوام او بریالیتوب تر شا یو مهم لامل ګڼل کېږي؛ خو هغه مهال چې د ملي شورا او حکومت ترمنځ اړیکې ښې وي.

د ولسي جرګې ١٦مه تقنیني دوره چې د پخواني ولسمشر حامد کرزي د حکومت پر مهال یې کار پیل کړ، د ۱۵مې دورې په پرتله یې له حکومت سره له لومړي سره اړیکې ښې نه وې. د حامد کرزي د حکومت پر مهال که څه هم د ولسي جرګې او حکومت ترمنځ اړیکې تر یوې اندازې ښې نه وې او څو ځله یې د کابینې وزیران رد کړل؛ خو بیا هم د حکومت او ولسي جرګې ترمنځ زیات واټن او ډېره ناهمغږي نه وه، خو د ملي وحدت حکومت په راتګ سره د ولسي جرګې او حکومت ترمنځ واټن په بې ساري ډول زیات شو او ترمنځ یې ډېرې نانډرۍ وشوې.

د ملي یووالي حکومت د تېرې څلور کلنې مودې په لومړیو کې ولسي جرګې د ملي یووالي حکومت پر بهرني سیاست او په ځانګړي ډول په لومړیو شپږو میاشتو کې د پاکستان په لور د کابل پر سیاستونو، پاکستان ته د امتیازاتو په ورکولو او د حکومت د سولې پر تګلاره پراخې نیوکې کولې. وروسته بیا په افغانستان کې د داعش ډلې له ظهور او پراختیا سره، د ولسي جرګې یو شمېر غړو د ملي یووالي حکومت د داعش ډلې پر ملاتړ تورن کړ. دغه راز ولسي جرګې ته د باور رایې اخیستلو لپاره د وزیرانو په ځنډ ور پېژندل، د ولسي جرګې له لوري د ډېرو نوماندو وزیرانو ردول، پر وخت د پارلماني ټاکنو نه کېدل او د الکترونیکي تذکرو د وېش مسئله هغه مهم موارد وو چې د ملي یووالي حکومت او ولسي جرګې ترمنځ یې ټکر او واټن رامنځته کړی و.

---

## راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو ته اندېښنې:

# تیفا وایي چې تر ټاکنو مخکې دې ټاکنیز بنسټونه اصلاح شي




د رڼو ټاکنو بنسټ یا تیفا وایي چې تر ولسمشریزو ټاکنو وړاندې باید په ټاکنیزو کمېسیونونو او بنسټونو کې ژور اصلاحات راشي.

تیفا وایي چې د ټاکنیزو کمېسیونونو د کمزوري مدیریت له کبله، د ولسي جرګې په ټاکنو کې پراخې سرغړونې او درغلۍ وشوې.

د دغه بنسټ رییس نعیم ایوب زاده پرون له خبریالانو سره د ولسي جرګې د ټاکنو په تړاو د لومړنیو موندنو د شریکولو په غونډه کې وویل چې تر ولسمشریزو ټاکنو وړاندې باید د ټاکنیزو کمېسیونونو په ګډون، د ټاکنو په جوړښت کې اصلاحات رامنځته شي.

ایوب زاده زیاته کړه: «که ولسمشریزې ټاکنې پر خپل وخت ترسره نه شي، د افغانانو د برخلیک په وړاندې به لویه ستونزه وي، لویه کمزوري ټاکنیزو مدیریتي بنسټونو ته ورګرځي، له ټاکنو وړاندې باید په جوړښت او حقوقي چوکاټ کې اصلاحات رامنځته شي.»

د تیفا رییس وویل چې یو شمېر کړۍ او په حکومت کې د ننه کسان هڅه کوي چې یوې سیاسي معاملې ته زمینه برابره کړي چې په خبره یې، دا ډول هڅې د خلکو رایې قرباني کوي.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون د راتلونکي کال د حمل ۳۱مه د ولسمشریزو ټاکنو د ورځې په توګه اعلان کړې ده.

د ټاکنو د کمېسیون غړي او ویاند سیدحفیظ الله هاشمي وړمه ورځ وویل چې د ولسمشریزو ټاکنو مهالوېش چمتو شوی او په روانه اونۍ کې به له سیاسي ګوندونو، د ټاکنیزو شکایتونو له کمېسیون او دغه راز به یې پر ټاکنو د څار له بنسټونو سره شریک کړي.

د ټاکنو کمېسیون وایي، څارونکي بنسټونه باید پر ټاکنو تخنیکي څار وکړي او له سیاسي مداخلې دې لاس واخلي.

د دغه کمېسیون مرستیال ویاند ذبیح سادات ازادي راډیو ته ویلي چې ولسمشریزو ټاکنو ته پنځوس سلنه چمتووالی بشپړ شوی دی.

ده زیاته کړې: «له ټولو څارونکو بنسټونو زموږ غوښتنه دا ده چې د دوی لیدلوری باید تخنیکي و اوسي، نه سیاسي. د جمهوري ریاست لپاره چمتووالی نیول شوی، پنځوس سلنه کارونه یې مخکې تللي او کمېسیون ژمن دی چې د جمهوري ریاست انتخابات په خپل وخت ترسره کړي.»

په ورته مهال ولسمشرۍ ماڼۍ وایي چې ولسمشریزې ټاکنې به پر ټاکلي وخت کېږي.

د ولسمشرۍ ماڼۍ مرستیال ویاند شاه حسین مرتضوي رسنیو ته ویلي چې حکومت ټاکنو ته د بودجې او امنیت برابرولو مسوولیت لري او د ټاکنو تخنیکي چارې د کمېسیون اړوند دي چې باید ترسره یې کړي.

د چارو شنونکي بیا پر دې باور دي چې د ملي یووالي حکومت د ټاکنیز نظام د اصلاح کولو په پلمه ډېر وخت ضایع کړی او اړتیا ده چې اوس د راوستو اصلاحاتو په تړاو ولس ته معلومات ورکړي.

د چارو شنونکی حامد هاشمي وایي، د ولسي جرګې ټاکنې د اصلاحاتو په پلمه درې کاله وځنډول شوې او درې کاله وروسته هم دا ټاکنې له جدي ستونزو او پراخو درغلیو سره ملې وې. هاشمي وایي، د ملي یووالي حکومت باید نه یوازې دا چې ولسمشریزې ټاکنې پر خپل وخت وکړي، باید ولس ته ځواب ووایي چې د ولسي جرګې ټاکنې ولې له جدي ستونزو او پراخو درغلیو سره ملې وې.

## د کتـــاب خبـرې

# د رهبرۍ اړينې ځانګړنې

### ۲۱ هغه ځانګړتیاوې چې یو غوره رهبر یې حتماً ولري

◎ لیکوال: جان مکسوېل
◎ ژباړن: میـر احمد یـاد

### لسمه ځانګړنه
**نوښت:**




که یې نه لرئ، له کوره ووځئ.
بریا له علم سره تړلې ښکاري.
بریالي خلک عمل کوي.
دوی تېروتنې کوي، خو کار نه پرېږدي.
(کنراد هیلتن)
«د هوټل مدیره»

که رهبران له څه وېرېږي، نو ډاډ(بېغمي) یې په سر کې راځي.
(جان مکسوېل)

یو ګام وړاندې
کمونز وېلسن نوښتګر انسان و. ده په اووه کلنۍ کې کار پیل کړ او د دغه کتاب تر لیکلو یې لا بس نه دی کړی. کار یې د ورځپاڼو، مجلو او د جوارو د پولیو په پلورلو پیل کړ. په اولس کلنۍ کې یې پرېکړه وکړه چې په معاش به کار کوي او د مالوچو له یوه سوداګر سره نوکر شو، ده به پر یوې تختې د مالوچو بیې لیکلې او په دې کار به یې د میاشتې دولس ډالره معاش ورکاوه.
وروسته بیا د منشي توب دنده اعلان شوه، د دې کار معاش ۳۵ ډالره و، وېلسن غوښتنلیک ورکړ او په دنده وګومارل شو، خو په لومړۍ میاشت یې هماغه ۱۲ ډالره معاش ورکړ. ده بیا د معاش لوړولو غوښتنه وکړه او دا ځل یې معاش ورته ۳ ډالره لوړ کړ، یعنې ۱۵ډالره. وېلسن وویل چې د دې کار معاش خو ۳۵ ډالره دی، تاسې ماته ولې پوره معاش نه راکوئ، شرکت ورته وویل چې مونږ اوولس کلن هلک ته دومره معاش نشو ورکولای، په دې کار سره وېلسن استعفاء وکړه او د ۷۵ کلنو په عمر کې یې دا پر معاش لومړی او وروستی کار و.
بیا یې بېلابېل کاروبارونه کول، د قلمونو کاروبار، د نوشابو او شربتونو کاروبار... بلاخره یې دومره پیسې وسپمولې چې خپلې مور ته پرې کور جوړ کړي. کور یې چې جوړاوه ویې لیدل چې د کور جوړولو کاروبار ښه ګټه کوي. ده هم په ممفیس کې د کور جوړلو کاروبار پیل کړ او له جګړې وروسته موده کې یې ښې پیسې وګټلې.
وېلسن نوښتونه کول، خو داسې نوښت یې لا نه و کړی چې په ټوله نړۍ اغېز وکړي او دا یې په ۱۹۵۱ز کال کې وکړ. دا کال وېلسن له خپلې کورنۍ سره د رخصتۍ تېرولو لپاره واشنګټن ډي سي ته لاړ. له ۱۹۲۰ز کال راهیسې په هېواد کې ډېر هوټلونه جوړ شوي وو، ځینې یې کورنیو ته ښه ځایونه وو، ځینې د ساعتونو لپاره په کرایه ورکول کېدل، خو ستونزه دا وه چې مسافرین نه پوهېدل په کوم هوټل به ورپېښېږي.
وېلسن د هغه وخت په اړه وايي: (انسان نه پوهېده چې سر به یې چېرته وځي. ځینې هوټلونه ډېر زیات چټل او غریبانه و. هر هوټل به د ماشومانو جلا کرایه غوښته او همدا د دې لامل شو چې په ما کې سکاټلنډۍ غیرت راویښ شي. هوټلونو به هره شپه له ۴-۶ ډالر کرایه اخیسته او پر دې سربېره به یې له هر ماشوم ۲ ډالره نور هم غوښتل.) زیاتره وخت به خلکو شکایت کاوه، خو چا به په دې موضوع باندې سر نه خوړاوه، ترې هېرېده به... خو وېلسن نوښتګر و او پرېکړه یې وکړه چې په دې برخه کې به یو څه کوي. خپلې مېرمنې ته یې وویل: (ښه به دا وي چې بېرته خپل ښار ته ستانه شو او د هوټلونو یوه لړۍ پرانیزو. زه غواړم داسې هوټلونه جوړ کړم، چې خپل پرې باور وکړی شي.) هغه غوښتل چې ۴۰۰ هوټلونه جوړ کړي او مېرمن یې په دې خبره ښه ورپورې وخندل.
وېلسن چې بېرته ممفیس ته راستون شو، د لومړي هوټل د ډیزاین لپاره یې یو کس وګوماره. ده غوښتل چې پاک او د باور وړ هوټل جوړ کړي. ده غوښتل هغه ټولې اسانتیاوې برابرې کړي چې دی او کورنۍ یې په سفر کې ترې بې برخې وو. لکه په هره خونه کې ټلویزیون، بهر ښایسته حوض او نور... ورپسې کال یې د ممفیس په یوه سیمه کې خپل لومړی هوټل پرانیست او (هولېډی این (Holiday Inn) یې ونوماوه.
وېلسن د څلور سوه هوټلو لپاره یو فکر کړی و، خو تر دې فکره لږ ډېر وخت یې ونیوه. ده تر ۱۹۵۹ز کال پورې وکړای شول چې ۱۰۰ هوټلونه پرانیزي او تر ۱۹۶۴ز کال پورې یې د هوټلونو شمېر پنځه سوو ته ورسېده. په ۱۹۶۸ز کال کې یې زر هوټلونه پرانیستي وو. تر ۱۹۷۲ز کال پورې، په هرو ۷۲ ساعتونو کې په نړۍ کې یو (هولېډې این) هوټل پرانیستل کېده. په ۱۹۷۹ز کال کې د هولېډې این هوټلونو لړۍ داسې مخ پر وده وه چې وېلسن د زړه د حملې له امله د شرکت له مشرۍ ګوښه شو.
وېلسن به ویل: (په ځوانۍ کې مې د خېټې مړولو او ژوندي پاتې کېدو لپاره کار کاوه. بیا چې د زړه حمله راباندې راغله، نو کور ته لاړم او ګلاب به مې بویول، دې کار هم یوه میاشت وخت ونیوه،) یعنې لږ داسې پېښېږي چې نوښتګر خلک دې له کاره لاس واخلي او وزګار دې کېني.
**دوام لري...**

# د عاج ساحل

حشمت الله نوري



د عاج ساحل د افریقا په لوېدیځه برخه کې د لوېدیځ طول البلدونو د ۳ او ۸ درجو او د شمالي عرض البلدونو د ۵ او ۱۱ درجو ترمنځ موقعیت لري. پراخوالی یې ۱۲۴۸۲۴ کیلو متره مربع دی او له دې پلوه د نړۍ ٦۲م لوی هېواد دی. شمال ته یې بورکینافاسو، جنوب ته یې شمالي اتلانتیک سمندر، ختیځ ته یې ګانا او لوېدیځ ته یې لایبریا او ګیني موقعیت لري.
د عاج ساحل په عمومي توګه د استوا له کرښې سره د نږدېوالي له کبله توده او د ګیني له خلیج سره د ګاونډېتوب له امله لنده سمندري هوا لري. پلازمېنه یې د یاموسوکرو ښار دی چې په ۱۹۸۳ ز کال کې د دغه هېواد پلازمېنه وټاکل شو. د عاج ساحل د ټولو وګړو شمېر ۲۴ میلیونه تنه اټکل شوی چې په هر کیلومتره مربع ساحه کې یې ۷۰ تنه ژوند کوي. ۵۵ سلنه وګړي یې په ښارونو کې مېشت دي او پاتې ۴۵ سلنه نور یې بیا په کلیو او بانډو کې ژوند کوي. د دغه هېواد د قانون له مخې هره کورنۍ په ټول ژوند کې د څلورو ماشومانو د درلودلو اجازه لري.
د عاج ساحل د اداري وېش له پلوه په ۱۹ سیمو وېشل شوی دی. ۴۰ سلنه وګړي یې مسلمانان، ۳۳ سلنه یې مسیحیان او پاتې نور یې د بېلابېلو دینونو او عقیدو پیروان دي. د دغه هېواد رسمي ژبه فرانسوي ده، خو لیکدود یې بیا لاتیني دی.
د عاج ساحل اساسي قانون د ۱۹٦۰ ز کال د نومبر په دریېمه نافذ شوی چې وروسته پکې څو ځله تعدیلات هم راغلي دي.
د عاج ساحل ولسمشر د خلکو په خوښه د پنځو کلونو لپاره ټاکل کېږي او څو ځلې کار کولای شي. د دغه هېواد لومړی وزیر او د کابینې وزیران د ولسمشر له خوا ټاکل کېږي. د عاج ساحل ولسي جرګه ۲۲۵ غړي لري چې د خلکو په خوښه د پنځو کلونو لپاره ټاکل کېږي. په دغه هېواد کې د رایې ورکولو سن ۱۸ کاله او رایه ورکول پکې عمومي دي.
د عاج ساحل حقوقي نظام د فرانسې په مدني قوانینو او خپلو عنعنوي روایاتو ولاړ دی. ستره محکمه د دغه هېواد تر ټولو لوړ قضایي ارګان دی. د دغه هېواد محکمه څلور برخې لري: د جنایي پېښو محکمه، د مالي مسایلو محکمه، د مدني پېښو محکمه او د قوانینو د تطبیق د څار محکمه.
د عاج ساحل ولسواک ګوند، د عاج د خلکو جبهه، د عاج د کارګرانو ګوند، د اوسېدونکو ولسواکه جبهه او د عاج ساحل د سولې او ولسواکۍ اتحادیه د دغه هېواد لوی او نفوذ لرونکي ګوندونه دي.
عاج ساحل د ۱۹٦۰ ز کال د اګسټ په اوومه له فرانسې څخه خپلواکي واخیسته، نو له همدې امله د اګسټ اوومه هر کال په دغه هېواد کې د خپلواکۍ د ورځې په نوم نمانځل کېږي.
دغه هېواد د ګڼو نړیوالو ټولنو ترڅنګ په ۱۹٦۰ ز کال کې د ملګرو ملتونو غړیتوب هم ترلاسه کړ.
د عاج ساحل په نړۍ کې د قهوې او د خرما د غوړیو د لویو تولیدوونکو او صادرونکو هېوادونو له ډلې څخه دی، نو له همدې امله د دغه هېواد اقتصاد له اقلیمي شرایطو او په نړۍ کې د نوموړو صادراتي مالونو له بیو سره ډېر تړاو لري. د عاج ساحل د دولت له ډېرو هڅو سره سره چې غوښتل یې د خپل اقتصادي سکټور بنسټونه پراخه کړي؛ د دغه هېواد اقتصاد لا هم په کرنه او د څارویو په روزنه ولاړ دی. دغه سکټور ۷۰ سلنه خلکو ته د کار زمینه برابره کړې ده. د عاج ساحل سره زر هم تولیدوي. دغه هېواد د کورنۍ جګړې په کلونو کې ډېر زیانونه ولیدل؛ که څه هم چې دا لانجه په ۲۰۰۳ ز کې پای ته ورسېده، خو سیاسي ناکراریو اقتصادي پرمختګ ته خنډونه پېښول او بدلونونه کمزوري وو.
د ثبات نشتوالی، د اقتصادي بنسټونو کمزورتیا، امنیت، د اداري او حقوقي اسانتیاوو نشتوالی، د پخو لارو نشتوالی، د اورګاډي نشتوالی، برېښنا، ګاز او د مسلکي کادرونو نشتون هغه ستونزې دي چې د عاج ساحل له ډېر وخت راهیسې ورسره لاس او ګرېوان دی.
د دغه هېواد د ناخالصو کورنیو تولیداتو کچه ۴۰ میلیارده ډالره او د سړي سر کلنۍ عاید کچه یې ۱۵۳۸ ډالره اټکل شوې ده. همدا راز کاري ځواک یې اتو میلیونو کسانو ته رسېږي، خو ۳۰ سلنه کورنۍ یې د بېوزلۍ تر کرښې لاندې ژوند کوي.
د عاج ساحل ټول عواید شپږ میلیارده ډالره او لګښتونه یې ٦.۵۰ میلیارده ډالرو ته رسېږي.
د عاج ساحل ۱۵ سلنه ځمکه د کرنې وړ ده. د دغه هېواد ۴۲ سلنه خاوره څړځایونو، ۲۳ سلنه ځنګلونو او پاتې نوره بېدیاوو، سیندونو، ښارونو او د استوګنې کلیوالو سیمو نیولې ده. د عاج ساحل ۷۰ سلنه وګړي د کرنې په سکټور کې په کار بوخت دي او د هېواد ۳۳ سلنه ناخالص کورني تولیدات هم له همدې سکټور څخه لاسته راځي. ربړ، قهوه، خرما، جوار، وریجې، ږدن، کچالو، پنبه، ځمکنۍ بادام، مېوې، سابه، غوښه، لبنیات، هګۍ او وابښه د عاج ساحل د کرنې او څارویو مهم محصولات بلل کېږي.
نفت، الماس، سره زر، اوسپنه، بوکسایډ، مس او یورانیم د دغه هېواد لوی کانونه دي.
د صادراتو ټوله بیه یې ۱۳ میلیارده ډالره او د وارداتو ټوله بیه یې بیا ۱۰ میلیارده ډالره اټکل شوې ده.
فرانسه، جرمني، هالنډ، امریکا، چین، کولمبیا او جنوبي افریقا د عاج ساحل لوی سوداګریز شریکان دي.
عاج ساحل ٦۸۰ کیلومتره د اورګاډي پټلۍ او ۳۰ هوایي ډګرونه لري چې ۱۲ یې په پاخه او عصري ډول رغول شوي دي. د ټلیفون کوډ نمبر یې ۲۲۵ او د انټرنېټ کوډ نمبر یې سي ای دی او یو میلیون وګړي یې انټرنېټ ته لاسرسی لري.
د عاج ساحل درې دولتي ټلوېزیونونه او راډیوګانې لري. د رسنیو خصوصي برخه یې ټلویزیون نه لري، خو لس راډیوګانې لري.
د عاج ساحل د ناخالص کورني تولید او سړي سر کلني عاید له کبله د افریقا او نړۍ له پرمختلونکو هېوادونو څخه شمېرل کېږي.
د دغه هېواد ۷۰ سلنه وګړي په لیک او لوست پوهېږي. زده کړه په دغه هېواد کې له ٦ نه تر ۱۵ کلنو ماشومانو او تنکیوځوانانو لپاره وړیا او جبري ده.
په عاج ساحل کې د خلکو د ګڼې ګوڼې، وروسته پاتې ښاري او کلیوالي ژوند، د صنایعو تولیدي فعالیتونو، د نقلیه وسایطو ډېرښت او د خلکو د سواد او پوهې د لږوالي له امله هوا او چاپېریال ته زیان رسېدلی دی.
د عاج ساحل د پخواني تاریخ په هکله ډېر معلومات نشته. په ۱۵ مه پېړۍ کې د وخت د دوو اروپايي ځواکونو، فرانسې او پرتګال دې سیمې ته پام شو او د عاج په ساحلي برخو کې یو له بل سره وجنګېدل. د ۱٦ مې پېړۍ په نیمایي کې پرتګالیانو د عاج په ځینو سواحلو کې د استوګنې د سیمو په جوړولو لاس پورې کړ. دوی سمدلاسه د مرېیانو او هاتیانو سوداګري پیل او دغه سیمه یې د عاج ساحل په نامه ونوموله. د یوه روایت له مخې په ۱۷۳۰ ز کال کې د ګانا د مات شوي پاچا اشانتي لږي خور له خپلو خلکو او کورنۍ سره لوېدیځ لوري یا د ننني عاج ساحل په لوري وخوځېده او د عاج ساحل په منځنیو برخو کې یې یوه اداره جوړه کړه او ورو ورو یې د ایکیني او اتو کپورا پاچاهیو ته ستونزې جوړې کړې.
دغو سیمه ییزو واکمنیو د خپلې بقا لپاره په ۱۹۴۳ ز کال له فرانسې څخه مرسته وغوښته. فرانسویانو چې له پخوا څخه د سنیګال، مالي، ګانا، ګیني او عاج په ځینو ساحلي برخو کې د مهاجرینو اډې جوړې کړې وې، د عاج ساحل د ارزانه مرېیانو په سوداګرۍ بوخت شول.
له دویمې نړیوالې جګړې وروسته د عاج ساحل د افریقا له شتمنو مستعمراتو څخه بلل کېده. په ۱۹۵۸ ز کال کې د جنرال شارل دوګل د ولسمشرۍ په وخت کې فرانسې د عاج ساحل ته د فرانسوي ټولنې په چوکاټ کې کورواکي ورکړه.
په ۱۹۵۹ ز کال کې د عاج ساحل د نایجیریا، بورکینافاسو او بېنین سره یو اقتصادي کنفډرېشن جوړ کړ. په ۱۹٦۰ ز کال کې فرانسې په افریقا کې ډېرو هېوادونو لکه بېنین، ګابون، کامرون، کانګو، مالي، موریتانیا او د عاج ساحل ته د اګسټ په اوومه پوره خپلواکي ورکړه.
د عاج ساحل له خپلواکۍ څخه وروسته د فرانسې د ټولنې غړیتوب پرېښود او د ملګرو ملتونو د ټولنې په غړیتوب ومنل شو.
د عاج ساحل لومړني ولسمشر فلېکس بایګني و چې د افریقا د ولسواک یووالي ګوند مشر هم و. له ۱۹٦۰ ز نه تر ۱۹۸۵ ز کلونو پورې شپږ ځلې د هېواد ولسمشر شو. په ۱۹۹۰ ز کال کې د عاج ساحل ملي شورا په اساسي قانون کې بدلونونه راوستل او نورو ګوندونو ته یې هم اجازه ورکړه چې خپل کسان د ولسمشرۍ لپاره نوماند کړي، خو فلېکس بایګني په دې ټاکنو کې بیا هم د خلکو رایې وګټلې او د اووم ځل لپاره یې د ولسمشر په توګه د وفادارۍ لوړه وکړه. له دې ټاکنو وروسته د عاج ساحل په سلګونو محصلین او کارګران واټونو ته راووتل او د فلېکس بایګني د اوږدې واکمنۍ پر ضد یې لاریونونه پیل کړل. بایګني د ډسمبر په اوومه مړ شو او مرستیال ولسمشر هانري کونان بادیه د ملي شورا د پرېکړې له مخې د هېواد لنډمهاله ولسمشر وټاکل شو. دغه بدلون محصلین او کارګران هم دېته اړ کړل چې نوې واکمنۍ ته د کار او بدلون وخت ورکړي.
د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د ستراتېژیکو اړیکو په کتاب کې د عاج ساحل نوم نشته، نو له همدې امله دغه دواړه هېوادونه په خپلو کې هېڅ راز اړیکې نه لري.
له افغانستان څخه تر عاج ساحل پورې د هوا له لارې فاصله ۷۹۹۳ کیلو مترو ته رسېږي. دغه راز د کابل او یاموسوکرو ښارونو ترمنځ د وخت توپیر څلورنیم ساعته دی.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۵,۱۰ |
| € | ۸۵,۹۰ |
| Rp. | ۵۷۵ |
| ₹ | ۱۰۲۵ |
| ¥ | ۱۰,۸۰ |
| £ | ۹۵,۷۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بيړنی شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# سږ کال د نړۍ لس خوښ هېوادونه کوم وو؟

**ژباړه: حمیدالله حمیدي**

د ملګرو ملتونو د دايمي پراختيا د حللارو سازمان هر کال د نړۍ خوښۍ (World Happiness Report) په نوم يو راپور خپروي چې پکې د نړۍ د خوښو هېوادونو نوملړ هم وي. ناخالص کورني توليدات، ژوند ته تمه او ډېر نور شيان هغه څه دي چې له مخې يې دغه درجه بندي ترسره کېږي. په دې ليکنه کې مو په ۲۰۱۸ ز کال کې د نړۍ له لسو خوښو هېوادونو خبروو. که غواړئ پوه شی چې دا هېوادونه کوم دي، نو ليکنه تر پايه ولولئ.

د (نړۍ خوښۍ) په راپور کې د نړۍ ۱۵۶ هېوادونه د شپږو عواملو له مخې درجه بندي شوي دي. په دغو عواملو کې ناخالص کورني توليدات، ژوند ته تمه، ټولنيز ملاتړ، سخاوت، ازادي او فساد شامل دي؛ خو سږ کال د لومړي ځل لپاره د ملګرو ملتونو سازمان د کډوالو خوښي هم په لړ تر لړه ۱۱۷ هېوادونو کې څېړلې ده. يو څه چې ډېر مهم دي، د سيل او چکر ځايونو په دې برخه کې هېڅ رول نه دی لوبولی؛ ځکه داسې هېوادونه هم شته چې د سيل لپاره خورا ښه ځايونه لري، خو په دې نوملړ کې نه دي راغلي.

**۱- فنلنډ؛ په ۲۰۱۸ ز کال کې د نړۍ تر ټول خوښ هېواد**

سږ کال د نړۍ تر ټولو خوښ هېواد فنلنډ بلل شوی دی. د ژوند شرايط پکې خوار ښه او لوړ دي. فنلنډ هغه هېواد بلل شوی چې ژوند ته ور پېښېدونکي ګواښونه پکې ښېخي کم او د نړۍ په کچه يو سوله ييز هېواد دی. د ملګرو ملتونو د دايمي پراختيا د حللارو سازمان فنلنډ د کډوالو لپاره تر ټولو امن ځای او يو داسې هېواد ياد کړی چې کډوال ورته اوس د خپل هېواد او کور په سترګه ګوري او ژوند يې پکې په خوښۍ او خوشالۍ تېرېږي.

**۲- ناروې؛ هغه هېواد چې تېر کال په لومړي مقام کې و**

ناروې تېر کال د خوښو هېوادونو په نوملړ کې لومړی ځای خپل کړی و. دغه هېواد د اروپا له تر ټولو ښکلو هېوادونو څخه دی. که تاسو د ناروې په لارو او کوڅو کې ګرځۍ، د اوسېدونکو پر شونډو مسکا او پر تندي يې خوښي له ورايه ښکاري. ناروې د خپلو ګاونډيو هېوادونو په څېر له پوره امن او سولې برخمن هېواد دی چې د نړۍ د برياليو هېوادونو په کتار کې هم راځي. که کله دغه هېواد ته په سفر ولاړئ، نو له اوبو څخه د ډکو درو او ښکلو منظرو يې هرو مرو ليدنه وکړئ او خوند ترې واخلئ.

**۳- ډنمارک**

ډنمارک په ۲۰۱٦ ز کال کې د نړۍ د خوښو هېوادونو په نوملړ کې لومړی مقام خپل کړی و او تېر کال په دويم کتار کې راغلی و، خو سږ کال يې چې درېيم ځای خپل کړی؛ لا يې هم په اوسېدونکو کې هغه پخوانۍ خوښي له ورايه ښکاري؛ ځکه د دغه هېواد د وګړو لپاره د ژوند کولو ټول امکانات برابر دي. په ښو شرايطو او امکاناتو برابر د زده کړو، روغتيا او ژوند ټولې اسانتياوې ورته په پام کې نيول شوې دي. يعنې ويلای شو چې ډنمارک د نړۍ هغه هېواد دی چې ژوند پکې اسانه او اوسېدونکي يې له هېڅ راز امنيتي تهديد سره مخ نه دي.

**۴- ايسلنډ؛ د نړۍ سوله غوښتونکی او بې پرې هېواد**

ايسلنډ د نړۍ د سوله غوښتونکو او بې طرفه هېوادونو په ډله کې راځي. د اوسېدونکو لپاره يې د ژوند، ښې روغتيا او زده کړو وړيا زمينه برابره ده، نو له همدې کبله هر کال د نړۍ د لسو خوښو هېوادونو په کتار کې راځي. دغه هېواد د سيل او چکر لپاره خورا په زړه پورې ځايونه او منظرې لري چې په دې وروستيو کلونو کې يې د سيلانيانو شمېر څلور برابره لوړ شوی دی او لا هم د نورو سيلانيانو د جذب په حال کې دی. په زړه پورې خو دا ده چې د ايسلنډ په لسو کې يوه اوسېدونکي يې کتاب چاپ کړی دی، نو له همدې کبله يوازينی هغه هېواد دی چې نفوس ته په کتو يې د ليکوالانو شمېر زيات دی.

**۵- سويس**

سويس په ۲۰۱۵ ز کال کې د نړۍ د خوښو هېوادونو په نوملړ کې لومړی مقام خپل کړی و، خو سږ کال بيا په پنځم کتار کې راځي. له دې تنزل سره سره بيا هم دغه هېواد د خپلو اوسېدونکو لپاره تر ټولو خوښ او په زړه پورې ځای دی. د خوښۍ راز يې په دې کې دی چې سويس، تر ټولو د منظم مالياتي نظام، ښه جوړښت او ښه اقتصاد درلودونکی دی او تر ټولو ښه يې دا چې زده کړو ته پکې ډېر ارزښت ورکول کېږي او د نورو هېوادونو په پرتله په دې برخه کې ډېر امکانات لري. د الپ د غرونو تازه را الوتي هوا هغه څه دي چې له کبله يې د سويس اوسېدونکي هر سهار د يوې روښانه او خوشاله راتلونکې پر لور ګامونه اخلي او خپل ورځنی ژوند مخ ته وړي.

**٦- هالنډ؛ ارام او غلی هېواد**

هالنډ د لېبراليستي چلند له کبله، د ښه ژوند او ازادې سوداګرۍ له کبله په نړۍ کې مشهور دی. دغه هېواد سږ کال د خوښو هېوادونو په کتار کې شپږم ځای خپل کړی دی. که کله هالنډ ته لاړئ، نو له بادي ژرندو يې هرو مرو ليدنه وکړئ او د بايسکېل سپرلي خو چې ښېخي درنه هېره نه شي، له دغو دواړو کارونو پوره خوند اخيستلی شی. او که غواړئ چې د اروپايانو اصلي فرهنګ ووينی، نو امستردام ته هم يو سر ور ښکاره کړئ. د دغه هېواد خلک هم خورا خوښ او له ژونده راضي ښکاري.

**۷- کاناډا**

کاناډا د امريکا تر ټولو لوی ګاونډی هېواد دی. په دغه هېواد کې خوښۍ څپې وهي، د هر کاناډايي پر شونډو موسکا له ورايه ښکاري. د دغه هېواد نفوس کم، خو د سيل او چکر لپاره خورا ښکلي او ډېر ځايونه لري. دغه هېواد سږ کال د خوښو هېوادونو په نوملړ کې اووم ځای خپل کړی دی.

**۸- نيوزيلنډ**

د سيلانيانو د خوښې تر ټولو ښه ځای نيوزيلنډ دی. ارامه او له سکونه ډکه فضا نه يوازې خپله د دغه هېواد د وګړو لپاره په زړه پورې ده، بلکې ډېری نور کسان يې د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه هم ور جذب کړي دي. دا هغه هېواد دی چې هر کال يو زيات شمېر سيلانيان د ښکلو منظرو، پاکې هوا او له سکونه ډک چاپېريال لپاره دغه هېواد ته ورځي. دغه هېواد سږ کال د خوښو هېوادونو په کتار کې اتم ځای خپل کړی دی.

**۹- سويډن**

سويډن سږ کال د خوښو هېوادونو په کتار کې يو ګام مخکې راغلی او ځای يې استراليا ته پرېښی دی. دغه هېواد له خورا ښکلي او شين طبيعت څخه برخمن دی، خو ښارونه يې بيا د انسانانو پر لاس دومره ښکلي شوي چې ان تصور يې هم نه شي کېدای. د دغه هېواد ښارونه ښکلو ودانيو او له ښاره بيرون سيمې يې بيا شنو درو او په ټوله کې ښکلي طبيعت ښکلې کړې دي چې هغه د چا خبره د مړو زړونه پکې را ژوندي کېږي. دغه هېواد له هره اړخه خورا ډاډمن او د اوسېدونکو لپاره يې د ژوند ټول شرايط په پام کې نيول شوي دي او په پوره خوښۍ پکې ژوند کوي.

**۱۰- استراليا**

استراليا هغه هېواد دی چې سږ کال يې د خوښو هېوادونو په کتار کې لسم ځای خپل کړی دی. ډېر طلايي رنګه سواحل، څلور فصله په زړه پورې هوا، زړه وړونکی طبيعت، ګڼه ګوڼه او د ژوند له اړخه پر ټولو معيارونو برابروالي له کبله استراليا په نړۍ کې مشهور هېواد دی، خو په دغه نوملړ کې سږ کال يو ګام وروسته شوی دی. د دغه هېواد خلک هم په خورا خوښۍ خپل ژوند کوي او له هره اړخه يې د اوسېدونکو ژوند په ښه حالت کې دی.

که غواړی پوه شی چې سږ کال د خوښو هېوادونو وروستی هغه يې کوم دی، نو هغه له (بوروندي) پرته بل هېواد نه دی. له دې وروسته بيا د مرکزي افريقا جمهوريت، جنوبي سوډان او تانزانيا هغه هېوادونه وو چې د دغه نوملړ وروستۍ شمېرې يې خپلې کړې وې.

## ولسمشر غني: هلمند ته به د لومړۍ درجې ولايت ټولې اسانتياوې برابرې شي

ولسمشر غني وايي چې د هلمند لپاره به د لومړۍ درجې ولايت ټولې اسانتياوې په پام کې ونيول شي او د ولسواليو د امنيت د ټينګښت لپاره به يې اړينې هلې ځلې وشي.

ولسمشر محمد اشرف غني د يو لوړپوړي دولتي پلاوي په مشرۍ پرون سهار هلمند ولايت ته تللی و.

ولسمشر د دغه سفر په ترڅ کې د هلمند له امنيتي او دفاعي مسوولينو سره وکتل.

غني د هلمند په قول اردو کې پر راغلو بدلونو خوښي څرګنده کړه او په قول اردوګانو کې يې د منسوبينو پر ښوونې او روزنې او ظرفيت لوړولو ټينګار وکړ.

هغه د خلکو او امنيتي او دفاعي ځواکونو ترمنځ د باور جوړولو تجربه چې د دغه ولايت په امنيت کې د مثبت بدلون لامل شوې، وستايله او زياته يې کړه له دې تجربې دې په ټولو ولايتونو کې استفاده وشي.

غني په ملکي او نظامي ګومارنو کې د زورواکو لاسوهنو ته په اشارې ووېل، د ۲۱۵ ميوند قول اردو د پياوړي کېدو په حال کې ده او د استخدام په چارو کې هېڅ ډول مداخله ځای نه لري.

هغه زياته کړه، په پوليسو کې هم اصلاحات دوام لري او پايله به يې په ټول هېواد کې د نا امنيو د کمېدو لامل شي.

نوموړي همدا راز ژمنه وکړه چې د دغه ولايت د نفوسو په تناسب به د هلمند ولايت د حجاجو ونډه زياته شي او د هلمند ولايت له خلکو يې وغوښتل چې د جمهوري رياست د ټاکنو لپاره دې د نومليکنې په پروسه کې ونډه واخلي، څو د نفوسو د دقيق شمېر د روښتيا لپاره زمينه برابره شي. ولسمشر ژمنه وکړه چې د هلمند لپاره به د لومړۍ درجې ولايت ټولې اسانتياوې په پام کې ونيول شي.

هلمند د افغانستان تر ټولو نا امن ولايت دی چې دا مهال يې د شپږو ولسواليو بشپړ کنټرول له وسله والو طالبانو سره دی.



## د ټاکنيزو شکايتونو کمېسيون: له بايومېټريک پرته کارول شوې رايې باطلېږي

د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کمېسيون وايي، هغه رايې چې له بايومېټريک پرته کارول شوې، باطلېږي.

د ټاکنيزو شکايتونو کمېسيون د يوې خبرپاڼې په خپرولو سره ويلي، د تورو او سپينو رايو د بېلولو لپاره يې اووه ګوني معيارونه ټاکلي چې پر بنسټ به يې عمل کېږي.

د خبرپاڼې په يوه برخه کې راغلي:

«په صندقونو کې اچول شوې هغه رايې چې له بايومېټريک پرته د رايه ورکوونکو د نوملړ له مخې کارول شوې، بې اعتباره کېږي.»

د ولسي جرګې په تېرو ټاکنو کې ګڼې تخنيکي ستونزې او نيمګړتياوې وې چې تر ټولو لويه هغه يې د بايومېټريک دستګاوو خرابوالی و. د ټاکنو خپلواک کمېسيون ددې ستونزې د هوارې لپاره اعلان وکړ، په هغو مرکزونو کې چې بايومېټريک دستګاوې خرابې دي، رايه ورکوونکي له بايومېټريک پرته د نوملړ له مخې هم رايې کارولی شي.

خو د ټاکنيزو شکايتونو کمېسيون اوس د ټاکنو د خپلواک کمېسيون دا پرېکړه رد کړې او وايي چې له بايومېټريک پرته کارول شوې ټولې رايې به باطلې کړي.

د ټاکنيزو شکايتونو کمېسيون له لوري په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي: «کمېسيون دا پرېکړه د شکايتونو د شمېر، شدت او وضعيت تر ارزونې، سلا مشورو او فکر وروسته کړې ده.»

تر دې وړاندې ځينو سياسي ګوندونو او جريانونو د هغو ټاکنيزو مرکزونو د رايو د باطلېدو غوښتنه کړې وه چې له بايومېټريک پرته کارول شوې وې.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدير:** اسدالله وحيدي
**مرستيال:** عبدالرقيب نوري
**ليکوالان:** محمد نظيم سمون، شفيق اميرزی، جاويد کوټوال او شفيق همدرد
**خبريالان:** حميدالله حميدي، حکمت آرين، حشمت نوري او جواد تيموري
**ګرافيک او ډيزاين:** ارمان
**چاپخونه:** وايګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily




دوشنبه د ۱۳۹۷ د لړم اوومه | د ۲۰۱۸ د اکتوبر ۲۹مه | دویم کال | ۲۷۵یمه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۵ | ۱۸ | ۲۸ | ۱۷ | ۳۲ | ۲۷ |
| ۹ | ٦ | ۱۱ | ۹ | ۱۷ | ۱٤ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:٤۷ | لمر ختل ۰٦:۱۰ | ماسپښین ۱۱:۳۸ | مازیگر ۰۳:۲٤ | ماښام ۰٥:۰٤ | ماخوستن ۰٦:۲۸

## امریکا کې پر کلیسا برید ۱۱ کسان وژلي



د امریکا پنسلوانیا ایالت د پیټرزبورگ ښار ته نږدې د یهودانو په کلیسا کې ډزې شوې چې ۱۱ کسان پکې وژل شوي. ۴٦ کلن بریدگر رابرټ باویرز نومېږي چې د پولیسو لخوا نیول شوی او اوس تر درملنې لاندې دی.

د ترهگرۍ ضد پولیسو سیمه کلابنده کړې او نږدې خلکو ته یې تر څو ساعتونو کورونو کې د پاتېدو سپارښتنه کړې.

د امریکا ولسمشر ډونالډټرمپ د پېښې ځای ته تللی او دا یې یو وحشي برید بللی. ټرمپ د وسلو درلودلو قوانینو ته په اشارې ویلي، که د کلیسا د ننه په وسلو سمبال امنیتي کسان وای، نو پېښې به بل رنگ پیداکړی و.

رپوټونه وایي، بریدگر یې پېژندلی چې اوس روغتون کې تر درملنې لاندې دی. له هغه سره یو ټوپک او دوه تومانچې هم موندل شوې چې کلیسا ته ننوتی او هلته یې پر حاضرو خلکو ډزې کړې.

اسکویریل هیل کلیسا پنسلوانیا کې هغه کلیسا ده چې د نورو هغو پرتله ډېر کسان د عبادت لپاره ورځي او شنبې ورځ بیا د عبادت کوونکو شمېر بیخي ډېر وي.

### نړۍ



## عمان د اسرائیلو د په رسمیت پېژندلو غوښتنه کړې ده

۲

## پوهه پر جهالت غوره کړئ!

طالبانو د خپلې اعلامیې برخلاف چې ویلي یې وو د خلکو سر او مال ته به زیان نه رسوي، پر خپلو څرگندونو عمل و نه کړ. دوی نه یوازې چې خلک ووژل، بلکې د هغوی شتمنې یې هم له منځه یوړه. هغه ډارن بریدونه چې دوی د ټاکنو په بهیر کې د خلکو د گډون د مخنیوي په موخه وکړل، د ښځو او ماشومانو په گډون د لسگونو کسانو د وژل کېدو لامل شول. خو افغانان د هغوی پر وړاندې په ډېره مېړانه ودرېدل او له خپل حق څخه یې گټه واخیسته. د دې هېواد د راتلونکې لپاره د افغانانو اراده د ترهگرو له ارادې څخه ډېره پیاوړې ده.





## روشنی را بر جهالت ترجیح دهید!

برخلاف اعلامیه طالبان که گفته بودند به مردم و اموال شان ضرر نمی رسانند، اما به گفته های شان عمل نکردند، نه تنها که جان مردم را گرفتند، بلکه به اموال آنها نیز آسیب رساندند. حملات بزدلانه که برای مانع شدن مردم جهت شرکت در پروسه انتخابات صورت گرفت، منجر به کشته شدن ده ها تن به شمول زنان و کودکان گردید. افغانها در برابر آنها شجاعانه ایستادگی و از حق رای شان استفاده کردند. اراده افغانها برای آینده این کشور قویتر از اراده شورشیان است.